**ښتمني**
**SHTAMANAI**

**درنو هیوادوالو!**

ستاسو د مالیاتو پیسې د هیواد پر اقتصادي پراختیا، رغونه، جوړونه، د ښوونکو، ډاکترانو او امنیتي ځواکونو پر تنخواو لګول کېږي؛ خپله ملي دنده ترسره کړئ، د مالیاتو په ورکړه سره د هیواد اقتصاد او راتلونکی تضمین کړئ.

سه شنبه | ۲۵ محرم الحرام ۱٤٤٤ / ۱ سنبله ۱٤۰۱ | ۲۳ اګست ۲۰۲۲ | سال اول | شماره ۲٦ | ٤ صفحه



# د مالیې وزارت د سرپرست وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري پیغام

سرمقاله

## د مالیې وزارت یوکلن ویاړلی پرمختګ

ملت د لوړي، فقر او غربت تر څنګ د خپلو او پردیو ظلم، وهشت او بربریت تر پوزي راوستی وو، د یوې وچې ډوډۍ د پیداکولو او نس ډکولو توان یې نه درلودی په هیواد کې یې د ارام ساه نه وسوه اخیستلای هره شېبه د بدمرغه جګړې او بمبارۍ له وېرې او وحشت سره مخ وو او هره شېبه به د ځان د خوندیتوب په لټه کې وو. د الهي نصرت کرشمې وې، چې د ازادۍ او خپلواکۍ توغ د هیواد په غرو او درو کې ورپېدی، ملت د پردیو له تېرې، بربریت او ظلم څخه په امن سو، د بدمرغه الوتکو ړغونه ورک سول او ټول هیواد د افغانانو د یوه واحد حاکمیت تر واک لاندې راغلی بالاخره ئې د ازادۍ، خپلواکۍ او استقلال تنده ماته سوه. الحمدلله د (۱۴۰۰ل) کال د اسد په څلوریشتمه د افغانستان مظلوم؛ خو ویاړلي او سرلوړي ملت په خپل ګران هیواد کې د ارام سا واخیسته، خپلو هیلو او ارمانونو ته ورسېدل. د خپلواکۍ د څپې له مجسم کېدو سره د ټولو دولتي ادارو چارې بېرته له سره پیل سوې، سرپرسته کابینه وټاکل سوه، د هر وزارت لپاره تر ډېره مسلکي او باتجربه کسان د سرپرستانو په حیث خپلو کارونو ته ادامه ورکړه، چې په دې وزارتونو کې یو هم د مالیې وزارت وو. د مالیې وزارت مشرتابه او کاري ټیم ئې د ځینو نویو او تېر نظام د مامورینو پرمټ چارې رواني وساتلې؛ ترڅو مالیات او ګمرکي محصول پر نړیوالو سټنډرډونو برابر راټول کړي، د ټولو دولتي ادارو لګښتونه او تادیات اداره کړي، دولتي شرکتونه او تصدۍ مدیریت کړي، خپل مالي امکانات تنظیم کړي، د عوایدو او لګښتونو تناسب په پام کې ونیسي، له فساد سره چټکه مبارزه په یوه نوې بڼه پیل کړي او داسي ګامونه پورته کړي چې په هیواد کې نوي عایداتي سرچینې پیدا کړي، خپلي ټولي مالي چاري د نړیوالو اقتصادي اصولو او قوانینو پر بنسټ تنظیم کړي، عامه شتمني (بیت المال) په شفافه توګه او د یو واحد حساب له مخې د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره وکاروي، له نړیوالو بنسټونو او مؤسسو پرته له خپلو عوایدو په لږو امکاناتو د ۱۴۰۰ کال وروستیو درو میاشتو بودیجه څه له پاسه (۵۳) میلیارده افغانۍ او بیا د ۱۴۰۱کال لپاره یو کلنه بودیجه، چې څه له پاسه (۲۳۱) میلیارډه افغانۍ کېږي پر نړیوالو معیارونو ترتیب کړي، ګمرکي پړاوونه اسانه کړي، دولتي املاک په خپل واک کې واخلي، د غصب او د جایدادونو د حیف و میل مخنیوی وکړي، هغه دولتي شرکتونه فعاله کړي، چې فعالیت ئې په ټپه ولاړ وو، په کور دننه او نړیواله کچه خصوصي سکټور ته لازمي اسانتیاوي برابري کړي، له معیاري پرمختللو الکترونیکي سیسټمونو (اسیکوډا، افمیس او سکتاس) څخه په ګمرکونو، خزاینو او عوایدو کې د تېر په څېر په عادي ډول او بشپړه توګه ګټه واخلي. د مالیې وزارت رهبري او کارکوونکي به د هیواد ابادۍ ته همداسې دوام ورکوي او د مالي ځان بسیاینې لپاره به کار کوي.

**د اسلامي امارت یو کال او د هیواد مالي خپلواکي دې ټولو هیوادوالو ته مبارک وي.**



**ګرانو هیوادوالو!**

سره له دې چې موږ د تیر یوه کال په موده کې د هیواد د مالي منابعو مدیریت په برخه کې د پام وړ پرمختګ درلود؛ خو زموږ هیواد لا هم د دوامداره اقتصادي ودې او مالي ثبات ترلاسه کولو لپاره اوږده لاره په مخ کې لري. موږ اوس هم له ځینو لویو ستونزو لکه د عوایدو کمښت، د بودیجې کسر، د ملي اقتصاد د ثبات نشتوالی، بې وزلي او کارموندني سره مخ یو. مالیې وزارت د هېواد د مالي مدیریت د مسؤل په توګه، ځان مکلف ګڼي چې د دغه بې ثباته مالي او اقتصادي وضعیت په وړاندي لاندي جدي اقدامات ترسره کړي.

- د مالي ثبات او دوامداره اقتصادي ودي د تأمین لپاره جدي اقدامات؛
- د عوایدو په راټولو کي زیاتوالی او د عامه لګښتونو کنټرول؛
- د افغانستان د کانونو له لارې د اقتصادي ودي غوره والی؛
- په ملي بودیجه کي د متوازن انکشاف د اصل رعایتول.

همدارنګه اړینه ده، چې هر حکومت له داخلي، سیمې او نړۍ هیوادونو له حالاتو خبر وي، څو وکولای سي د دقیقو معلوماتو پر اساس خپلي مالي سرچینې تنظیم او په اغېزمنه توګه تخصیص کړي. د یوه دولت د بریالیتوب لپاره تر ټولو مهم شرط د بودیجې له کسر څخه مخنیوی دئ. د بودیجې د کسر د مخنیوي لپاره باید د عوایدو او لګښتونو تناسب په پام کي ونیول سي او د چارو په تنظیم کي یې له جدي تدابیرو کار واخیستل سي؛ تر څو له یوې خوا د عوایدو په راټولو کي زیاتوالی رامنځ ته او له بلې خوا د بې ځایه لګښتونه مخه ونیول سي. د مالیې وزارت اصلي موخه مالي ځان بسیاینې ته رسېدل دي، دې موخي ته د رسېدو لپاره یوې معتبري او هر اړخیزي مالي ستراتیژۍ ته اړتیا ده. دا په دې مانا ده چې په دوامداره توګه ټولنیز او اقتصادي اهداف ترلاسه کول، د ډېرو لګښتونو څخه ډډه کول، او د دولت د سرچینو څخه اعظمي ګټه پورته کول. د پورتنیو موخو د لاسته راوړلو لپاره به په دې برخه کي پراخ اصلاحات پلان او په تدریجي ډول پلي سي. د وزارت د کارکوونکو د ظرفیت د لوړولو او د هغوی د ستونزو د حل په موخه لازم تدابیر نیول سوي او عملي سوي دي. د مالیې وزارت موخه دا ده چې د هیواد مالي چاري د علمي اقتصادي اصولو او معیارونو پر بنسټ تنظیم کړي، تر څو افغانستان له ثبات، امنیت او مالي ځان بسیاینې څخه برخمن سي او په دې توګه له بیت المال څخه په پوره شفافیت او حساب ورکوني د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره کار واخیستل سي. د مالیې وزارت رهبري په دې باور ده، چې د هیواد له داخلي منابعو څخه د یوه همغږي جوړښت څخه په استفادې، د غیر ضروري لګښتونو په کمولو او د ملي عوایدو د راټولو په ښه مدیریت سره کولای سو د اقتصادي بنسټونو د ټینګښت او د تلپاتي ثبات د رامنځته کولو لپاره د مناسبو اقتصادي پالیسیو په پلي کولو سره د مالي ثبات او اقتصادي ځان بسیاینې د ترلاسه کولو لپاره اساسي ګامونه پورته کړو.

**د یوه باثباته، ځواکمن او ځانبسیا افغانستان په هیله**



**د مالیې وزارت یوکلن بریالی مزل**

م ۲



**د ګمرکونو او عوایدو معین د سوداګریزو شرکتونو د بېلابېلو اتحادیو له استازو سره وکتل**

م ٤



**صادرات ذغال سنگ از طریق گمرک تورخم از سر گرفته شد**

م ٤



**د شوکاڼي نیمه قیمتي ډبرې صادراتي ګمرکي تعرفه له ۵ سلنې څخه ۲۵ سلنې ته لوړه شوه**

م ٤



**په مالیې وزارت کي نوي ګمارني وسوې**

م ۲

شتمني
SHTAMANAI

## په مالیې وزارت کې نوي ګمارني وسوې



په مالیې وزارت کې د چارو د لا ښه پرمختګ او کار اهل د کار ته دسپارلو په موخه د وړ اشخاصو نوي ګمارني وسوې. حمدلله زاهد د امیر المؤمنین شیخ هبة الله اخندزاده (حفظه الله) د حکم پر اساس د چارو ادارې د



رئیس شیخ نورالحق انور له لوري د مالیې وزارت د اداري معین په صفت په دنده وګمارل سو. د یادونې وړ ده، چې د مالیې وزارت رهبرۍ د کاري سمون، پرمختګ او اصلاح په موخه وړ کسان پر دندو ګمارلي دي، چې هم مهاله ورسره د دې وزارت په چارو کې سمون او چټکوالی راغلی.

## د ولایتي ګمرکونو د تشریح او بررسۍ کارکوونکو ته تخنیکي سیمینار پیل سو



د ولایتي ګمرکونو د تشریح او بررسۍ برخي یو شمېر کارکونکو ته په تخنیکي او مسلکي برخه کې ورکشاپ تېره ورځ د ګمرکونو په ملي اکاډمۍ کې پیل او تر ۱۵ ورځو پوري به دوام وکړي. د دې ورکشاپ د پیل په مراسمو کې د ګمرکونو لوی ریاست د پلان جوړوني، پالیسۍ، څارني او ارزوني رئیس ښاغلي عبدالرحمن وقاد خبري وکړې او ټولو ګډونوالو ته یې ښه راغلاست وویل. نوموړي د دې ورکشاپ د ارزښت بیانولو تر څنګ له ګډونوالو څخه غوښتنه وکړه چې د چارو لا ښه والي په موخه له دې ورکشاپ څخه پوره ګټه واخلي. په دې ۱۵ ورځني ورکشاپ کې به ګډونوالو ته د تشریح او بررسۍ په برخو کې تخنیکي او عملي روزنه ورکړل سي.

# د مالیې وزارت یو کلن بریالی مزل




د مالیې وزارت مشرتابه هڅه کوي، چې ټولي مالي چاري د نړیوالو اقتصادي اصولو او قوانینو پر بنسټ تنظیم کړي؛ ترڅو افغانستان اقتصادي ثبات او پر ځان بسیاینه ترلاسه کړي اواولس ته د دې ډاډ ورکړي، چې عامه شتمني (بیت المال) په شفافه توګه او د یو واحد حساب له مخي د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره راټولیږي او بیا مصرفیږي، له نېکه مرغه د تېر یو کال په جریان کې چې د افغانستان اسلامي امارت واک ته رسېدلی، د مالیې وزارت رهبرۍ د یو مستحکم، باثباته او پر ځان بسیا افغانستان لپاره خپلي هڅې کړي دي؛ د مالیاتو او ګمرکي محصول د راټولولو، په نړیوالو سټنډرډونو برابري بودیجې جوړولو او پلي کولو، د ټولو دولتي ادارو د لګښتونو او تادیاتو اداره کولو، د دولتي شرکتونو او تصدیو په مدیریت کې یې د پام وړ لاسته راوړني لرلي دي، چې مهمي ئې په لاندي ډول دي.

❖ د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د ۱٤۰۱ مالي کال تشکیل د معیارنو په اساس (Function Based) ترتیب او ایجاد کړ؛ ترڅو مالیه ورکونکو ته د عوایدو په سیستم کې مالیه ورکونکو ته د ښو خدماتو وړاندي کول، د نافذه قوانینو تطبیق او خطرونو په ښه ډول تحلیل کړي.

❖ د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست کې د اصنافو د درجه بندۍ په خاطر د ازادې سیالۍ له لاري د نوو کارمندانو استخدامول؛ ترڅو درجه بندي په ښه توګه تطبیق سي، د دې ترڅنګ د اصنافو د بایومتریک پروسه شروع کول؛ ترڅو د عوایدو د اتلاف مخه ونیول سي.

❖ د SIGTAS, RMIS, E-filling لپاره د یوزر جوړول، د پسورډونو تغییر او انلاک کول؛ ترڅو کارکونکي او مالیه ورکونکي سیستم ته لاس رسی ولري.

❖ په ګمرکونو کې د فساد کچه را ټیټه ول، ګمرکي پړاوونه اسانه کول، پر مختللي بریښنایي تلي نصبول، سوداګرو ته د اسانتیاوو په موخه انلاین یوزرونه جوړول او د کمیشنکارانو جوازونه لغوه کول؛

❖ د ګمرکونو د لوی ریاست په مټ د ۱٤۰۰ کال د سنبلې میاشتي له لومړۍ نیټې څخه د ۱٤۰۱ کال د سرطان میاشتي تر پایه د هیواد له ټولو ګمرکونو څخه تر (۷۲) میلیارډه افغانۍ زیات عواید راټولول؛

❖ د عوایدو لوی ریاست په مټ د ۱٤۰۰ کال د سنبلې له لومړۍ نېټې څخه د ۱٤۰۱ کال سرطان میاشتي تر پایه (۳۵.۵) میلیارډه غیر مالیاتي عواید او (۲۸) میلیارډه افغانۍ مالیاتي عواید راټولول؛

❖ د املاکو عمومي ریاست د غوره کار په پایله کې؛ په تېر یوه کال کې صرف د مرکزي جایدادونو د کرائې او اجارې له لاري (۲۸۲) میلیونه افغانۍ عواید راټولول او د (۱۹۱۵۰) جایدادونه ثبتول؛

❖ د دولتي شرکتونو عمومي ریاست د هڅو په نتیجه کې د (مرکزي سیلو، د کندز سپین زر، د هلمند د بست پنبې او نباتي غوړو، د بلخ د پنبې او نباتي غوړو، د ارزاق، د نفتو او ګازو، د مسافر وړونکو ښاري ملي بس او د افغان کارت دولتي شرکتونو) فعالیتونه بیا پیلول؛

❖ د دولتي شرکتونو عمومي ریاست د (۱۸) شرکتونو مځکي او ساختمان، د (۲۰) شرکتونو د غیر منقولو جایدادونو (مځکي او ساختمان) غصب او په انفرادي ډول له (۱۲) شرکتونو څخه د وزارت د مالي او اداري عمومي ریاست له طریقه، د دولتي ملکیتونو د بیا راګرځوني کمیسیون ته د ۱.۱.۱ کابینې د څلورمې ګنې مصوبې او دوهمې فقرې پر اساس په ټولیزه توګه لیږل او د غیر منقولو جایدادونو معلومات د اجاره/کرایې، غصب له تفکیک سره سم بیا راګرځول او په خپله ولکه کې یې راوستل؛

❖ د پالیسۍ معینیت د فعالو هڅو په پایله کې د افغانستان نړیوال اقتصادي کنفرانس ترسره کول او په مټ ئې له نړیوالي ټولني سره د افغانستان پر بانکي سکتور لګېدلي بندیزونه محدودول، په کور دننه خصوصي سکټور ته لازمي اسانتیاوي برابرول، د بشر پاله مرستو په تړاو د نړۍ والي ټولني ژمني راجلبول، د خصوصي سکټور خوځښت ته لار هواره ول، د امریکا خزانه دارۍ وزارت له لوري د (۲۰، ۱۹، ۱۸، ۱۷، ۱٦) شمیرو جوازونو صادر ول، د ملګرو ملتونو سازمان له لوري د (TEF) په چوکاټ کې د بشري خدمتونو د پانګوني د ساتني په روغتیایي او تعلیمي برخو کې د ۳.٦ میلیارډه ډالرو وړیا مرستي، د امریکا متحده ایالاتونو له لوري ۳۰۸ میلیونو ډالرو مرستي، د اروپایي ټولني له لوري ۳۰۲ میلیونو ډالرو مرستي، د اسیا پراختیایي بانک له لوري د ٤۰۵ میلیونو ډالرو د ورکړي مرستو ژمني اخیستل؛

❖ د مالیې وزارت په خپلو چارو کې بشپړ شفافیت او رښې حکومتولۍ ته په ژمنتیا سره د (اسیکوډا، افمیس او سکټاس) پرمختللي نړیوال سیستمونه فعالول او د ګمرکونو، خزاینو او عوایدو په برخو کې ترې لازمه ګټه اخیستل؛

❖ د مالیې وزارت رهبرۍ د چین د خصوصي سکټور له استازو سره لیدل او په افغانستان کې د سوداګرۍ، صنعت او نورو اړینو برخو کې د پانګونې په پار او د هر اړخیزو همکاریو ژمني کول؛

❖ له تېرو ۲۰ کلونو وروسته د لومړي ځل لپاره د هیواد له داخلي عوایدو یوه بشپړه او خپلواکه بودیجه جوړول؛

❖ د مالیې وزارت رهبرۍ د متشبثینو، ګسبګرو، صنعتکارانو او پانګوالو سره مشورتي غونډې کول او د هغوی د مشکلاتو له اورېدو وروسته مالیاتي معافیتونه ورکول؛

❖ په سیمه ییز اقتصادي ډیپلوماسۍ او د ګاونډې هیوادونو (ایران، ازبکستان، ترکمنستان او پاکستان) سره د ګمرکي اسانتیاوې رامنځته کول؛

❖ د کوچنیو تشبثاتو د هڅولو په موخه د ۱۳۹۰ل کال څخه د تېرو کلونو مالیاتي باقیات او جریمې (۱۰۰٪) معاف، له (۱۳۹۱ل.) څخه تر (۱۳۹۵ل.) پوري مالیاتي باقیات (۵۰٪) او مالیاتي جریمې (۱۰۰٪) معاف او له (۱۳۹٦ل.) څخه تر (۱٤۰۰ل.) پوري مالیاتي جریمې (۱۰۰٪) معافول؛

❖ د ۱٤۰۰ کال لپاره په بریالیتوب سره د( ۸۲۰۰۰۰ ) دولتي کارکوونکو ته د معاشونو او امتیازونو ورکول؛

❖ د مرکز او ولایتو په کچه ۱۳۰ تنو کارکوونکو ته د مسلکي زده کړو پروګرام ترسره کول، ۱۲۲ تنو ته یې مدیریتي زده کړې او ۲۵ تنو ته یې د ماسټرۍ زده کړو لپاره مرکزي آسیا هیوادونو ته ور پېژندل؛

❖ په بلخ ولایت کې د قوش تیپې ستر کانال د پروژې کار پیلول؛

❖ د نفتي توکو د طرحي ترتیبول او د نفتو دبیو لوړېدو د مخنیوي په موخه د حل لارو موندل؛

❖ د هیواد په درو ګمرکونو کې تورخم، اقینه او حیرتان کې د کمپیوټري ترازوګانو بیا فعالول؛

❖ په شفاف ډول د مطلوبو عوایدو راټولیدل، د اقداماتو په واسطه د ټولني تحفظ، د پولو ښه او اغیزمن مدیریت، د سوداګرۍ او صنعت د ودي په برخه کې مرسته، د طرزالعملونو او ګمرکي پروسو ساده او همغږي کول، د ګمرکي کنټرول په لاره اچول او د ګمرکي کارکوونکو د وړتیا لوړول.

❖ له مستوفیتونو سره د همغږۍ او د مالیه ورکونکو د مشکلاتو د اورېدلو لپاره ټولو ولایتونو ته هیات لیږل، په ولایتونو کې د عوایدو د نظارت کمیټه رامنځته کول. (چي نظارت یې د هر ولایت والي، مستوفي او د آمنیې قومندان پر غاړه لري)

❖ د مالیه ورکوونکو او هغه کسانو لپاره چې په کومه برخه کې شکایت ولري، د نوی ریاست (د شکایاتو په نامه) جوړول.



ترتیب کونکی: حبیب الله رحیمی
دولایتی بودجی آمر

# د ولايتي بوديجې جوړونه



د ملي او محلي لومړيتوبونو په اغيزمنه توگه د لاسته راوړلو لپاره، د حکومت پاليسي دا ده چې د بوديجې جوړول شفاف، د اټکل وړ او متوازنې پروسې ولري چې د اساسي قانون او د حکومت د لومړيتوبونو او نورو اړوندو قوانينو سره سم وي. د ولايتي بوديجې جوړونې تمرکز د محلي حکومتدارۍ د پياوړتيا لپاره د ملي بوديجې کارول دي ترڅو د ولايت په کچه خلک ځواکمن کړي او ترڅو د اړونده ولايت په پرمختگ کې مهم رول ولوبوي.

ولايتي بوديجه جوړونه هغه پروسه ده چې له مخې يې د خدماتو وړاندې کول او د محلي پراختيا لومړيتوبونه د ملي پلان جوړونې او بوديجې په پروسه کې رانغاړل کيږي. ولايتي بوديجه جوړونه د مرکزي بوديجې واحدونو د بوديجې وړانديزونو سربيره د سيمه ايزو څانگو وړانديزونه، د بوديجې د وړانديزونو د پلان او ترتيب په پړاوونو کې د خلکو وړانديزونه او د اړوندو څانگو سره په همغږۍ کې د خلکو وړانديزونه شامل دي. په ملي بودجه کې. د دولت پاليسي دا ده چې بودجه د مالي سرچينو په حدودو کې د مالی پاليسيو او لومړيتوبونو د تطبيق په موخه وکاروي. له همدې امله، ولايتي بوديجې جوړونه ولايتي ادارې ته لارښوونه کوي چې خپلې بوديجې د عامه مالي مديريت د منل شويو اصولو لکه مالي توازن، مالي انضباط، اقتصاد، موثريت او مثمريت او له اداري فساد سره د مبارزې او د بې وزلۍ د له منځه وړلو د موضوعاتو په نظر کې نيولو سره د پراختيايي موخو د لاسته راوړلو لپاره د يوې وسيلې په توگه وکاروي، او د يادو شويو موخو د لاسته راوړلو لپاره د دوی وړانديز شوي بوديجه مطابقت ولري

د ولايتي بودجې جوړونې مهم فعاليتونه:

- د ولايتي بوديجې پاليسي پلي کول
- د ( حفظ او مراقبت ) ساتنې او څارنې اوعملياتي چارو پلي کولو ريفورم
- د ولايتونو اوولسواليو د ښاروالیو د بوديجې د مسودې ترتيبول
- د ولايتونو د اقتصادي پروفايلونو ترتيب او نهايي کول
- مشارکتي بوديجه (د ملي بوديجې په جوړولو کې د خلکو سره د حکومت مشورتي غونډې)
- په ولايتي اومرکزي کچه د ظرفيت د لوړولو پروگرامونه

د ولايتي بوديجې جوړونې مهمې لاسته راوړنې:

۱. د ولايتي خدماتو وړاندې کولو لومړيتوبونو پورې اړوند، د ولايتي پلان جوړونې او بوديجې جوړولو گډې پروسې رامينځته کول او ښه کول د دې لاسته راوړنې، اصلي پايله دا ده: د ولايتي لومړيتوبونو د پيژندلو په بهير کې د ولايتي شوراگانو او د ولسواليو د همغږۍ شوراگانو سره مشوره.

۲.د بوديجې د تطبيق او د ولايت په کچه د شفاف، متوازن، او اغيزمنو خدمتونو وړاندې کول. د دې لاسته راوړنې بنسټيزه پايله دا ده: د تقويم ساده کول او د اړوندو څانگو د روښانه رول او مسؤليتونو سره د ولايتي بوديجې او پلان کولو مؤثره پروسه.

۳. د لومړي ځل لپاره د ښاروالۍ د بوديجې قانون پر بنسټ، ولسواليو او ولايتونو د ۱۳۹۹ کال ملي بوديجه په سند کې شامله شوه، چې د شفافيت، همغږئ، د لگښتونو او عوايدو راپور ورکولو په څېر مثبتې پايلې يې لرلې.

٤. په ۱۳۹۹ کال کې د لومړي ځل لپاره د افغانستان د خلکو د غوښتنې پر اساس ، د بوديجې سند چمتو شو، چې د ملي بوديجې په سند کې د خلکو غوښتنې شاملې شوې، او ۴۵۷ کوچنۍ او لويې پروژې هم شاملې وې ، په دې سند کې دا ټول (له خلکو سره د دولت مشورتي غونډې) له لارې شامل شوي،

۵. د نړيوال بانک په همکارۍ د لومړي ځل لپاره د ( حفظ او مراقبت ) ريفورم په چوکاټ کې د موټرو او تعميراتو د ساتنې او څارنې نورمونه جوړ شول. په لومړي قدم کې په امتحاني ډول په پنځه مهمو وزارتونو لکه د ماليې وزارت، د ټولگټو وزارت، د عامې روغتيا وزارت او د لوړو زده کړو وزارت کې تطبيق يې شروع شو.

٦. له ۱۳۹٦ څخه تر ۱۳۹۸ کال پورې په ولايتونو کې د متوازن انکشاف او د خلکو د هوساينې د کچې د لوړولو او د مالي سيستم غير متمرکز کولو په موخه د افغانستان په ټولو ولايتونو کې د غير مشروطه بوديجې د ريفورم تر نامه لاندې ٦۵۳ پروژې د ۱۵ څخه زياتو ولايتي رياستونو کې پلي شوي، د ولاياتو په کچه دا تطبيق شوې.

۷. د ۱۳۹٦ څخه تر ۱۴۰۱ مالي کال پورې د ۳۴ ولايتونو مالي او اقتصادي پروفايلونه ترتيب شوي دي (په دې پروفايلونو کې عادي بوديجه، پراختيايي بوديجه او د ولايتونو په کچه د ټولو څانگو لگښتونه شامل دي.

۸. د مالي چارو او عامه لگښتونو په مديريت کې د ولايتونو او مرکز په کچه د ظرفيت لوړول.

د ولايتي بوديجې د کړنو څخه شميرل کيږی چې د ملی بوديجې په تطبيق کې خورا اغيزمن ثابتيږی.

## اعلان داو طلبی

### رياست عمومی املاک دولتی وزارت ماليه جايداد های دولتی ذيل را به شکل آفر سربسته از طريق پروسه داطلبی به اجاره ميدهد

۱ - موازی(۵۰)متر مربع زمين دولتی ساحه يکباب دوکان واقع ماهيپر ولسوالی سروبی.
۲-موازی(۲۲۸۰.۸۰) متر مربع که شامل يک ساختمان يک طبقه يی نيمه مخروبه و يک ساختمان دوطبقه يی می باشد و در ساختمان دو طبقه يی در طبقه اول(۹) باب دکان و طبقه دوم آن نيز دارای (۹) باب اتاق می باشد واقع بازار ولسوالی کلکان ولايت کابل.
درصورتيکه اشخاص ،موسسات وشرکتهای محترم واجد شرايط خواهش اجاره گرفتن جايداد های فوق الذکر را داشته باشند در خواستی های خويش را به رياست عمومی املاک دولتی واقع تعمير(۱۴) منزله سينمای پامير سپرده سر از تاريخ ۲٦ اسد الی مدت ۱۴ روز شرطنامه را ملاحظه نموده مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول حق الاشتراک بدون باز گشت را پرداخت نمايند.
پرداخت نمايند.

### رياست عمومی املاک دولتی وزارت ماليه جايداد های دولتی ذيل را به شکل آفر سربسته از طريق پروسه داطلبی به اجاره ميده

۱-يک قطعه زمين بمساحت(۳۲۹۷.۲۵)متر مربع مع تعمير مخروبه واقع ولسوالی ده سبز ولايت کابل.
۲-موازی(۷۸۰) متر مربع بشمول تعمير مخروبه آن واقع بازار ولسوالی چهار آسياب.
۳-موازی(٦۲) جريب زمين زراعتی و بکرو باير واقع قريه گلزار ولسوالی چهار آسياب.
درصورتيکه اشخاص ،موسسات وشرکتهای محترم واجد شرايط خواهش اجاره گرفتن جايداد های فوق الذکر را داشته باشند در خواستی های خويش را به رياست عمومی املاک دولتی واقع تعمير(۱۴) منزله سينمای پامير سپرده سر از تاريخ ۲٦ اسد الی مدت ۱۴ روز شرطنامه را ملاحظه نموده مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول حق الاشتراک بدون باز گشت را پرداخت نمايند.

### پروژه تهيه و تدارک سيستم برق سولری گمرک سپين بولدک کندهار

وزارت ماليه ازتمام داوطلبان واجد شرايط دعوت می نمايد تا در پروسه داوطلبی تهيه و تدارک سيستم برق سولری گمرک سپين بولدک کندهار، اشتراک نموده و شرطنامه مربوط را در حافظه يا فلش دسک در مشاوريت تدارکات وزارت ماليه بدست آورده، آفرهای خويش را مطابق شرايط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاريخ ۱۸ اسد اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر تاريخ ۸ سنبله ۱٤۰۱ به رياست تدارکات وزارت ماليه واقع ناحيه ۲ پشتونستان وات ا رايه نمايند، آفرهای ناوقت رسيده و انترنتی قابل پذيرش نمی باشد. جلسه قبل از داوطلبی به تاريخ ۱/سنبله/۱٤۰۱ در زمان ۱۰:۰۰ قبل از ظهر، در منزل دوم تعمير معينيت اداری، آمريت تدارکات وزارت ماليه داير ميگردد. تضمين آفر بصورت تضمين بانکی مبلغ ٦۰۰,۰۰۰ )ششصد هزار افغانی( بوده و جلسه آفرگشايی به تاريخ ۸ سنبله ۱٤۰۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در آمريت تدارکات تدوير می گردد.

### پروژه ترميم تعميرات حوزه های مالياتی دوم، هشتم، دهم و پانزدهم رياست ماليه دهندگان کوچک مرکز.

ترميم تعميرات حوزه های مالياتی دوم، هشتم، دهم و پانزدهم رياست ماليه دهندگان کوچک مرکز
وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرايط دعوت مينمايد تا در داوطلبی پروژهء( ترميم تعميرات حوزه های مالياتی دوم، هشتم، دهم و پانزدهم رياست ماليه دهندگان کوچک مرکز) دارای نمبر تشخيصيه ۰۷۹-W/۱٤۰۱/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت ميگيرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذريعهء فلش ميموری از آدرس ذيل مطابق شرايط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجـراء ميگردد بدست آرند.
تاريخ مشخص آفرگشايی: تاريخ ۰۹/ سنبله/۱٤۰۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر ميباشد.
تضمين آفر : به مبلغ ٦۲,۰۰۰ (شصت دو هزار) افغانی ميباشد.
آدرس :وزارت ماليه چهارراهی پشتونستان – رياست تدارکات،مشاوريت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦

### په اجاره يا مشارکت د اريانا هوټل د داوطلبۍ خبرتيا

د هوټلونو دولتی شرکت په نظر کې لري چې خپل جايداد آريانا هوټل چې کابل ښار آريانا څلور لاره کې واقع د ۱۰ کالو لپاره په اجاره او يا هم په مشارکت ورکړی. شخصی او دولتی موسيسات چې د هغه په اجاره او يا هم مشارکت غوښتوونکې وي خپل غوښتنليکونه دې ۳۰ نمبر کور کارته سه اووم سړک کې واقع د هوټلونو دولتی شرکت د تهيی او تدارکاتو آمريت ته وسپاری شرطنامه مطالعه او خپله ۱۴ ورځې وروسته د اعلان څخه د داوطلبی په مجلس کې برخه واخلی تضمين نقداً اخيستل کيږی.
د ضرورت په صورت کې ددغه ۰۷۱۱۸۷۸٦۱۱ شميری سره اړيکه ونيسی.

## صادرات ذغال سنگ از طریق گمرک تورخم از سر گرفته شد



با اینکه صادرات ذغال سنگ از طریق گمرک تورخم به دلیل خراب شدن میوجات و ترکاری باب به تعویق افتاده بود؛ اکنون بار دیگر صادرات ذغال سنگ از راه تورخم برای رفاه تجار آغاز شده است.
پس از این ذغال سنگ از ساعت ۱۰ شب الی ٦ صبح از راه گمرک تورخم صادر می شود. اگر در مدت تعیین شده میوه یا سبزی به گمرک آورده شود اولویت صادرات به میوه و ترکاری داده می شود و اگر در جریان روز در گمرک نامبرده میوه و ترکاری نه باشد صادرات ذغال سنگ مجاز می باشد.

## د گمرکونو او عوایدو معین د سوداګریزو شرکتونو د بېلابېلو اتحادیو له استازو سره وکتل



د ګمرکونو او عوایدو معین ښاغلي ملا محمد ناصر اخند د سوداګریزو شرکتونو د بېلابېلو اتحادیو له استازو سره چې افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې لومړي مرستیال ښاغلي محمد یونس مهمند او د یادې خونې د مدیره پلاوي غړي ښاغلي خان جان الکوزي هم شتون درلود، د یاد معینیت د غونډو په تالار کې وکتل.
په دې ناسته کې چې د ګمرکونو لوی ریاست سرپرست ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید او د عوایدو لوی ریاست سرپرست ښاغلي معراج محمد معراج هم ګډون کړی و، په پیل کې د ګمرکونو او عوایدو معین ټولو ګډونوالو ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه چې زموږ هڅه داده څو په اړوندو برخو کې سوداګرو ته لا اسانتیاوې برابرې کړو او موږ دې ته لیواله یو چې ستاسې ستونزې او وړاندیزونه واورو او د اصولو سره سم ستونزو ته حل لارې پیدا کړو.
په دې کتنه کې د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې لومړي مرستیال د شوکاڼي او تازه میوو د صادراتو په برخه کې د سوداګرو شته ستونزې وړاندې کړې او د حل غوښتنه یې وکړه.
د ګمرکونو لوی ریاست سرپرست د سوداګرو د یادو ستونزو په اړه وویل چې موږ ټولو ګمرکونو ته هدایت کړی چې په صادراتو کې تازه میوو ته لومړیتوب ورکړي. نوموړي سوداګرو ته ډاډ ورکړ چې موږ چمتو یو څو په خپل وخت سره د تازه میوو د صادراتو په برخه کې تاسو ته په ګمرکونو ۲۴ ساعته خدمتونه وړاندې کړو.
ښاغلي سعید د سوداګریزو شرکتونو د اتحادیو له استازو څخه غوښتنه وکړه چې د سوداګریزو شرکتونو هغه T۱ چې د تېرو کلونو را په دې خوا په سیستم کې نا معتبره پاتې دي ژر تر ژره معتبر کړي.

## د شوکاڼي نیمه قیمتي ډبرې صادراتي ګمرکي تعرفه له ۵ سلنې څخه ۲۵ سلنې ته لوړه شوه



د تعرفې کمېټې د پرېکړې او د مالیې وزارت د رهبرۍ په منظورۍ د غیر پروسس شوي شوکاڼي ډبرې د یو ټن صادراتي ګمرکي تعرفه له ۵ سلنې څخه ۲۵ سلنې ته لوړه شوه. همداشان د دې پرېکړې له مخې د پروسس شوي (پوډر شوي) شوکاڼي د یو ټن ګمرکي تعرفه ۱۰ سلنه ټاکل شوې ده.
د دې تر څنګ د تعرفې کمېټې د پرېکړې او مالیې وزارت د رهبرۍ په منظورۍ د سرب نیمه قیمتي ډبرې صادراتي ګمرکي تعرفه هم له ۲.۵ سلنې څخه ۲۰ سلنې ته لوړه شوه.
د ګمرکي تعرفې له اصولو سره سم یاده پرېکړه د روان کال د صفرالمظفر میاشتې له ۹مې نېټې (د سنبلې میاشتې ۱٦مه نېټې) وروسته به د هېواد په ټولو ګمرکونو کې د پلي کیدو وړ وي.

## اثرات تفتیش بر تزیید و جمع آوری عواید



نویسنده: محمد احسان نکته دان

ادامه

### اثر تفتیش بر ازدیاد عواید

اکنون بر میگردیم به اصل مطلب تا بدانیم که تفتیش داخلی در تزیید عواید و جمع آوری آن چه نقشی دارد. این یک امر مسلم است که عامل ناکامی واحد های مالیاتی در جمع آوری کامل عواید و مالیات بالقوه مدیریت ضعیف عواید و جمع آوری آن است. بنابران ریفورم مدیریت عواید که مشمول تفتیش سودمند و موثر عواید و مالیات است یک امر مبرم است تا واحدهای عوایدی را قادر سازد برنامه درستی را جهت جلوگیری از فرار مالیاتی پی ریزی کنند و اطمینان می دهد که مالیات جمع آوری شده به حساب واردات دولت واریز شده به دست حیف و میل اشخاص مغرض و استفاده جو سپرده نشده است.
در حقیقت تفتیش مالی روند جمع آوری عواید را متأثر ساخته مالیه دهندگان و مودیان را وادار می سازد تا به صورت رضاکارانه برای پرداخت دیون مالیاتی خویش اقدام لازم نموده به وقت آن مالیات خویش را پرداخت نمایند که در نتیجه باعث ازدیاد عواید می گردد. همچنان تفتیش در ارتباط با درستی جمع آوری عواید تصمیم اتخاذ نموده اطمینان میدهد که عواید واقعی؛ مبالغی که از بابت مالیات بر عایدات، محصول گمرکی، حق الزحمه ها و ارایه سایر خدمات از منابع بیرون از واحد حکومتی بدست آمده به صورت درست جمع آوری می گردد.
با تفتیش مالیات ذمت مالیاتی اشخاص به صورت سهل و آسان تصفیه شده و موضوعاتی که نیاز به بهبود و تعدیل دارد، شناسایی می گردد.
روی این دلیل، تفتیش عواید نقش مهمی را در راستای ازدیاد توانایی مدیریت عواید بازی می کند؛ زیرا تفتیش عواید یکی از ابزار های مدیریت عواید می باشد. هر گاه افراد بدانند که آنها مورد بررسی قرار میگیرند سطح اطاعت پذیری بالا می رود و اما اگر تصور کنند که مورد پرسش قرار نمی گیرند و بررسی نمی شوند گراف اطاعت پذیری آنها به صورت چشمگیری سیر نزولی خود را می پیماید. طوری که تذکر یافت تفتیش داخلی از اهمیت ویژه ای در جمع آوری عواید به صورت موثر و شفاف برخوردار است. زیرا واحد های حکومتی را در جمع آوری مناسب عواید برای تکافوی بودجه، رشد اقتصاد، تنظیم و ثبات مالی کمک می کند تا اطمینان دهد که محصول قابل اطمینان توسط مالیه دهندگان تحویل شده است. بررسی ها در گذشته نشان داده است که مقدار محصولات گمرکی ای که در زمان تفتیش جمع آوری شده است، نسبت به زمان ماقبل تفتیش؛ یعنی در ماههای پیش از موجودیت مفتشین در اداره، به مراتب بیشتر است که به صورت تخمینی می توان گفت که ۳۰ درصد بیشتر از محصولات قبلی جمع آوری شده است. همینگونه در اثر تفتیش مبالغ هنگفتی که در اثر کم سنجشی مامورین مالیاتی و عدم رعایت قوانین به صورت درست بیرون نویسی شده است که مبالغ هنگفتی را تشکیل میدهد که از جمله این مبالغ قسمت زیاد آن تحصیل و از واریز شدن آن به حساب بانکی مربوطه اطمینان داده شده است.

د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو مننونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت سره سمې وي.
له ټولو درنو همکارانو او د هېواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک magazine@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.

د امتیاز خاوند: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: محمد نبي سلطاني
کتنپلاوي:
ندا محمد صدیقي
عبدالرحمن سجاد
ابراهیم ګران
اجمل زاهد
د خبر مدیر: داود نظري
خبریال: سید مصطفی سروش
د معلوماتو راټولوونکی: محمد افضل الکوزی
عکاس: فضل احمد یوسفزی
ډیزاینر: محمد نسیم ظهوري

د مالیې وزارت د لاسته راوړنو، خبرونو، کنفرانسونو، خبرتیاوو، غونډو، داوطلبۍ اعلانونو، د املاکو د قراردادونو او نورو مالیاتي مسایلو څخه د خبرېدا لپاره لاندې آدرسونه کتلای سئ:

ویبپاڼه: mof.gov.af
ټویټر: @afghanistanmof
یوټیوب: afghanistan mof
فیسبوک: د مالیې وزارت، وزارت مالیه